


# د ۱۳۸۹ کال د ولسي جرګې ټاکنې

## د کاندیدانو او سیاسي ګوندونو استازو ته د ټاکنوڅخه د نظارت لارښود





د ا لارښود په افغانستان کې د ملي ډموکراتیک
انستیتوت د دفتر لخوا برابر شوی
۱۳۸۹

NDI NATIONAL DEMOCRATIC INSTITUTE
FOR INTERNATIONAL AFFAIRS

**ستاينه**

**دا لارښود کتاب په نړيوالو چارو کې د ملي ډموکراټيک انستيتوت لخوا د کانديدانو او سياسي ګوندونو د استازيو د حقوقو او مسئوليتونو په هکله د يو لړ ضروري معلوماتو د برابرولو په موخه کوم چې د ۱۳۸۹ کال د ولسي جرګې د رای ورکولو او شميرنې د څارنې په ولاړندې يې لري، برابر شوی دی.**

**د يادونې وړ ده چې انستيتوت د دې لارښوود کتاب په برابرولو کې د امريکا د متحده آيالاتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) له مالي مرستې، همدارنګه دمعلوماتو د شريکولو په برخه کې د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کميسيون څخه مننه او ستاينه کوؤ.**

**انستيتيوت هيله مند دی چې ددې سند په برابرولو سره به د ولسي جرګې د ښيګڼو د کچې په لوړوالی او د ډموکراسۍ د بهير په پياوړتيا کې مهمه ونډه ولوبوي او د رای ورکولو او رايې شميرنې د بهير په برخه کې د کانديدانو او سياسي ګوندونو د استازيو پوهه د دوی له اصلی ونډې او اصولو څخه لا زياته او ورسره مرسته وکړي.**

**دا لارښوود کتاب د نيمې ورځې روزنيزو پروګرامونو په اوږدو کې د انستيتوت د با تجربه او مسلکي ښونکو او روزنکو لخوا د کانديدانو او سياسي ګوندونو استازيو ته د هيواد په ۳۴ ولايتونو کې تدريس او ويشل کيږي.**

# د موضوعاتو سرلیک


**لومړی مبحث : د رای ورکولو او شمیرنې د بهیر په اړه معلومات**

- د رایې ورکولو وخت
- د رایې ورکولو شرطونه:
- د رایې ورکولو مرکز او محلات:
- د رایې ورکولو لپاره عمومي اصول:
- ټاکنیز توکې:
- څوک په مرکزونو کې د حضور اجازه لري:
- اعتراض او شکایتونه:
- د شمیرنې لپاره چمتووالی:
- د شمیرنې پړاوونه
- د رایو د پاڼو تطبیق
- د تطبیق په بهیر کې کوم موردونه باید تر پام لاندې ولرو
- د توپیر یا تفاوت په برخه کې کړنلاره
- د رأی پاڼو تصنیف

**دویم مبحِث: د رأی ورکولو او رأی شمیرنې له بهیر څخه څارنه**

- د سیاسي ګوندونو او کاندیدانو د چلند اصول
- د یوه کاندید یا سیاسي ګوند د استازي په توګه
- څرنګه کیدلای شي تر څودیوه کاندید یا سیاسي ګوند د استازي په توګه و پیژندل شو
- د یوه استازي په توګه مونږ باید څه شی ترسره کړو
- ترمخه له رأیې ورکولو
- د رأی ورکولو په ورځ
- د ټاکنو د ناظرینو د چلند اصول
- د ناظرینو حقوق او مسوولیتونه
- د ټاکنو یو ناظر کوم کارونه کولای شي
- د ټاکنو یو ناظر کوم کارونه نشي کولای
- د ناظر او کتونکي ترمنځ توپیر
- کوم ټکي چې باید د رایې ورکولو پرمهال ورته ډیره پاملرنه وشي
- د رأی ورکولو د مرکزونو د پرانستولو څخه نظارت
- کومو موردنو ته چې باید د پرانستلو پروخت ورته ډیره پاملرنه وکړو
- له ټاکنو څخه نظارت
- د بهیر د پای څارنه
- د رای ورکولو د محلونو د تړلو پرمهال مونږ باید لاندنیو ټکو ته پاملرنه وکړو
- د شمیرنو نظارت
- کوم موردونه چې باید د رای پاڼو د ویش یا بیلولو په مرحله کې ورته پاملرنه وشي

**دریم مبحث: د نظارت له بهیر څخه څارنه**

- پرانستنه، بهیر او د رای ورکولو پای
- پیل، بهیر او د شمیرنې پاې

## لومړی مبحث : د رای ورکولو او شمیرنې د بهیر په اړه معلومات

**د رايي ورکولو وخت**

پیل : د سهار ۷ بجې

پای: د مازدیگر ۴ بجې

د شمیرنې پیل: د رای ورکولو له پای سره سم

**د رايي ورکولو شرطونه:**

- 18 کلن او یا له هغه څخه زیات
- د افغانستان تابعیت
- داچې پخوايي د رایه ورکونکي په توگه نوم لیکنه کړې وي.
- د با صلاحیته محکمي لخوا له خپل سیاسي او مدني حقونو څخه محرومه شوی نه وي.

د رايي ورکولو د محل رئیس د یوې ستونزې په اړه د پریکړې د صلاحیت درلودنکی دی. که چیرې ناظر یا استازی د ترلاسه شوې پریکړې څخه خوښ نه وي، کولای شي چې خپل شکایت دټاکنیزو شکایاتونو کمیسیون ته وړاندې یا ولیږي.

### د رايي ورکولو مرکز او محلات:

په لمړي سر کې ښه ده چې د دغو دواړو توپیر له یو بل سره زده کړو:

- **د رايي ورکولو مرکز:** عبارت دی د رایي ورکولو له یو لړ محلاتو څخه چې لږ ترلږه له دوه محلاتو څخه چې یو یې د نارینه ؤ او بل یې د ښځو لپاره په پام کې نیول شوی ، جوړ شوي دي. باید ووایو چې کیدلای شي په ځینې مرکزونو کې د کوچیانو لپاره ځانگړي محلات په پام کې نیول شوي وي.
- **د رايي ورکولو محل:** د رایي ورکولو مرکزله یوه ځانگړي محل څخه عبارت ده چې د رایي ورکونکو یو معلوم شمیر په هغه ځای کې خپله رایه کاروي. په یوه محل کې د رایه ورکونکو شمیر به له ۶۰۰ تنو څخه زیات نه وي.

### د رايي ورکولو لپاره عمومي اصول:



- هر رایه ورکونکی باید په هغه ولایت کې چې په کارت کې یې لیکل شوی او ترېې لاسه کړې ، خپله رایه وکاروي. رایه ورکونه د بل شخص په استازیتوب جواز نلري.



- هر رایه ورکونکی باید رای پاڼه په ځانگړې غرفې کې په نښه کړي . په غرفه کې په یوه وخت سره له یوه څخه زیاتو کسانو ته په ډله ییز او کورنۍ توگه اجازه نشته



- په رایه ورکولو کې سپین ږیرو، معیوبینو او هغو ښځو ته چې د حمل تکلیف لري د لمړیتوب حق ورکول کیږي.



- رای ورکونکی باید له رایي ورکولو سره سم د رایي ورکولو محل پریږدي.

## ټاکنیز توکي:

1) حساس توکي

- رای پاڼي ( کارول شوې ، نه کارول شوې او ضایع شوې )
- د رای پاڼو رسمي ټاپه
- د تطبیق او پایلو فورمه
- نه پاک کیدونکی رنګ
- د کارتونو سورى کونکي آله
- د رایو د صندوق  مهرو لاکونه

2) غیر حساس توکي:

- پر قرطاسیې او نورو هغو توکو شامیلیږي له کومه چې شتون یا نه شتون یې پر پروسه باندي کوم اغیز نشي درلودلای.

### څوک په مرکزونو کې د حضور اجازه لري:

1

د محل رییس او کارکونکي

2

د کاندید یا ګوندونو استازي

3

کورني او نړیوال کتونکي

4

د مطبوعاتو یا رسنیو استازي

5

پولیس په هغه صورت کې چې د محل د رییس لخوا راوبلل شی

6

د شکایاتونو د کمیسیون غړي او یا استازي

7

ځانګړي میلمانه

8

د ټاکنو د کمیسیون غړي او یا نور کارکونکي

9

رایه ورکونکي او یا د معیوبو رایه ورکونکو سره د هغو ملګري

**اعتراض او شکایتونه:**

هغه ناظرین چې د کمیسیون لخوا یې باورلیکونه ترلاسه کړي وي، اجازه لري ترڅو شکایتونه او اعتراضونه د رایې ورکولو په محل کې ثبت کړي. اعتراض په هغه صورت کې صورت مومي چې کوم رایه ورکونکي د رأی ورکولو وړ شرطونه پوره کړي نه وي او اعتراض باید تر مخه له دې چې رأی ورکونکی رأی پاڼه ترلاسه کړي، درج شي.

**شکایتونه**

څرنګه یو شکایت باید ولیکو؟

که چیرې یوه مسئله د ټاکنو د محل او یا خو د رییس لخوا حل نه شي، نوموړی ناظر کولای شي چې د ټاکنو د شکایتونو کمیسون ته شکایت ولیکي.

د شکایت فورمونه د رایې ورکولو په محلاتو کې موجود دي او کیدای شي چې د رأی ورکولو د محل د رییس څخه ترلاسه شي. کله چې فورم بشپړ شو باید چې د محل رییس ته وسپارل شي چې هغه به یې په یو پاکټ کې د نورو ټولو شکایتونو سره یوځای کړي.

**د شمیرنې لپاره چمتووالی:**

کله چې د رایو د صندوق پورتنۍ خوله ( د رایې ورکولو ځای) مهرولاك شو، د محل رییس باید ټول حساس مواد لکه ضایع شوې رایې پاڼې ، د رایو هغه پاڼې چې ګټه ترې نه ده اخستل شوې او ټاپه له ټولو کارکونکو څخه راټولې کړي. بیا د محل رییس باید لاندې چارې ترسره کړي:

- ټولې رای پاڼې د وشمیرې کوم چې سهار د رأې ورکولو محل ته رالیږل شوې وي.
- ټولې ضایع شوې رأی پاڼې د وشمیري.
- د رایو هغه پاڼې دې چې ترې ګټه نده اخستل شوې وشمیري.
- ټولې توزیع شوې پاڼې د وشمیرل شي.

د ټولو پورته شمیرنو ټول شمیر باید د هغو پاڼو د شمیر سره مساوي وي چې په سهار کې د رأی ورکولو محل ته رالیږل شوې وي.

**د شمیرنې پړاوونه**

شمیرنه په درې مختلفو پړاوونو کې ترسره کیږي: ۱) تطبیق، په دې پړاو کې ټولې هغه رایې چې ګټه ترې اخیستل شوې او هم هغه رایې چې ګټه ترې نه ده اخیستل شوې شمیرل کیږي. ۲) د رایو د پاڼو تصنیف او ۳) شمیرنه په کابل کې به د رایو د ډیروالي له کبله د شمیرنې د جلا کړنلارې په واسطه به وشمیرل شي.

**د رایو د پاڼو تطبیق:**

د تطبیق د پړاو د پیل کیدو څخه مخکې، د رأې ورکولو د محل رییس باید ټول پړاوونه ناظرینو ته روښانه کړي. د رأی ورکولو د محل د کتار کنترولر مسئوولیت لري تر څو د شمیرلو په بهیر کې محل ته د ناظرینو د ننوتلو او وتلو اجازه ورکړي.

**د تطبیق په بهیر کې کوم موردونه باید تر پام لاندې ولرو:**

- کله چې د رایې ورکولو صندوقونو له محلاتو څخه د باندې وړل کیدل آیا دهغو مهراولاکونه سالم وو؟
- آیا د مهراولاك شمیرې په لوړ آواز لوستل کیدې او آیا د هغو شمیرو سره چې د رایو د مرکز څخه راپور ورکړل شوي ؤ، یو شان وې؟
- آیا د ناظرینو څخه وغوښتل شول چې شمیره مخکې د صندوق د پرانستلو څخه وګوري؟
- آیا د رایو د شمیرلو پر مهال د رایو صندوق په بشپړه توګه تش شو؟
- آیا مامورینو ټول کتونکي او ناظرین د هغه څخه چې دوی سرته رسول په څرګنده توګه خبر کړل او آیا د هغوی فعالیتونه په څرګنده توګه ټولو ناظرینو او کتونکو ته د لیدو وړ او واضح وو؟
- آیا د رایو صندوق پرمیز کینودل شول؟
- آیا د رایو تش صندوق ناظرینو ته وښودل شول؟

وروسته له هغه چې د رايي ورکولو صندوقونه ټول خالي شول، د رايي ورکووني د محل کارکوونکي به د مهر شويو رايو پاڼي په پنځوس – پنځوس شميره بيزه بنډلونو کي سره ترتيب کړي. کوم بنډلونه چې شمير يې له پنځوسو څخه کمې وي د بيا ډاډ د ترلاسه کولو پخاطر د بل کار کوونکي لخوا وشميرل شي.

رييس د رايو ټول شمير اعلانوی او وروسته هغه بيرته په صندوقونو کې کيږدي. وروسته له څو تنو ناظرينو څخه به غوښتنه وشي تر څو د بهير په پای کې بشپړه شوې د تطبيق فورمه لاسليك کړي.

که چيرې د تطبيق په بهير کي کومه اندېښنه را منځ ته شوه نو هغه دې د محل رييس ته وړاندې کړي او يادابښت دي کړي. د اړتيا په صورت کي کولای شي چې د ټاکنو د شکايتونو د کميسون فورمه ډکه کړئ.

**د توپير يا تفاوت په برخه کي کړنلاره**

هر راز توپير چې په صندوقونو کې د شته رايو پاڼو په هکله موجود وي يوائې هلته به حل شي چې د رايو ورکولو صندوقونو د تطبيق له مرحلې څخه تير شي.

- رييس گوري چې آيا د تطبيق په فورمه کې محاسبه سمه ده او که نه؟ که سمې وي:
- رييس په دويم ځل ضايع شوې او نه کارول شوې رأی پاڼې شميري او له هغو شميرو سره کوم چې د تطبيق په فورمه کې ثبت شوي، پرتله کوي تر څو معلومه کړي چې نوموړي ليکل شوی رقم سم ده او که نه.
- که چيرې اختلاف تراوسه هم شتون لري، نو رييس بايد له صندوق څخه راويستل شوې رأی پاڼې بيا وشميري او د هغې شميرې سره يې پرتله کړي چې په فورمه کې ثبت شوي چې آيا سمې دي او که نه.
- په هغو واقعاتو کي چې اختلاف حل نه شي نو مشر بايد لاندې چارې ترسره کړي:
- ناظرين او کتونکي د اختلاف په اړه خبر کړي،
- تصنيف او د رايو شميرنې ته ادامه ورکړي.
- رييس دغه توپير يا اختلاف په ژورنال کې ليکي او د رأی ورکولو د مرکز مدير ورڅخه خبروي.

**د رأی پاڼو تصنيف:**

د تصنيف په بهير کې هغه د رايو پاڼې چې د تطبيق په پړاو کې په ۵۰ دانه يي بنډلونو ويشل شوي وي، اوس د کانديدانو پربنسټ په بنډلونو ويشل کيږي يعنې تصنيفيږي. ټولې پاڼې د يوې نښې لپاره کتل کيږي. که چيرې په يوه پاڼه کې د يوې څخه ډيرې نښې پيدا شي نو نوموړې پاڼه باطله ګڼل کيږي. رييس په لوړ آواز سره د هر کانديد نوم او نمبر لولي او هغه پاڼې د همدې کانديد په بنډل کي ږدي.

د روڼتيا د ډاډمنتيا لپاره، رييس بايد هره پاڼه مخکې له دې چې په وړ ځای کې يې کيږدي د اعتبار او بطلان حالت يې بايد ناظرينو ته وروښودل شي. کله چې دا پړاو بشپړ شو، د پيژند مامور به بياکتنه وکړي چې هره گيډی وگوري او ومونډي چې آيا هره رايه پاڼه په سمه توگه په خپل ځای کې کيښودل شوې او که نه.

## دویم مبحِث: د رأی ورکولو او رأی شمیرنې له بهیر څخه څارنه

## د سیاسي ګوندونو او کاندیدانو د چلند اصول

**لومړۍ برخه: عمومي احکام، حدود او هدف**

په مختلفو ټاکنیزو بهیرونو کې د سیاسي ګوندونو او کاندیدانو د ګډون تنظیم.



د یو لړ ټاکلو اصولو په پام کې نیولو سره د سیاسي ګوندونو او کاندیدانو مکلفیت، همدارنګه د غړو او پلویانو په ګډون د ټاکلو اصولو څخه سرغړونې لپاره د فردي مسؤلیت په ګوته کول.

د سیاسي ګوندونو او کاندیدانو حقوق او دندې:



د چلند د اړوندو اصولو پربنسټ د سیاسي ګوندونو ټول رهبران، غړي او خپلواک کاندیدان دې لاندني مواد رعایت کړي:

1. په مختلفو ټاکنیزو بهیرونو کې د ګډون لپاره د بیان آزادۍ له بنسټیزو حقوقو، غونډو، اجتماع ګانو اوفعالیتونو څخه ګټه واخلي.
2. د هغوی ټاکنیز فعالیتونه نه باید چې د توکمیز، قومي، طبقه یي، ژبني، سیمه ییز، جنسي او مذهبي توپیرونو پر بنسټ ولاړوي.
3. په سیاسي فعالیتونو او رایي ورکولو کې د ښځو یو شان لاسرسي اوونده باید را منځته شي.
4. نورو سیاسي ګوندونو، خپلواکو کاندیدانو او عامو خلکو حقوقو او خپلواکۍ ته درناوی ولري، ترڅو هغوی پرته له وېرې او یا بل خنډ څخه په مختلفو ټاکنیزو بهیرونو کې ګډون وکړي.
5. د پټې رایې درناوی دې وکړي، د خپلوا استازیو او پلویانو د پوهاوي لپاره دې اړین ګامونه پورته کړي او د پټې رایې د اهمیت سره دې پرمخ ولاړ شي، او هیڅکله دې زیار نه باسي چې د زور په کارولو سره رایه ورکوونکي ځان ته لېوال کړي.
6. په خپلو لارښوونو او هدایاتونو کې دې د زور کارول، تاوتریخوالی او یا پر هغې باندې درټلو) تهدید (پر خلاف د نه کولو تینګار او تقویت کول.
7. د غیر قانوني و سلوالو ځواکونو لرونکي باید نه وي او یا هم په هغوی کې غړیتوب و نه لري.
8. د زور، تاو تریخوالي او یا رټلو(تهدید) له کاروني څخه باید ملاتړ ونه کړي، همدا راز په هغې کې دې ونډه هم وانخلي، بلکي د داسي پېښو د کېدو په صورت کې هغه باید وغندل شي.
9. د اسلام سپیڅلي دین اصولو، د اساسي قانون احکامو او د افغانستان نورو قوانینو ته دې درناوی وکړي.
10. دټاکنوپه ټول بهیرکي تل دداسي کلموله کارونو څخه چي دلمسون ، بیزارئ اوتوپیردرلودلولامل ګرځي لکه توکمیز ، قومی ، ژبنی ، سیمه ییز، طبقاتي ، جنسي ، یامذهبي شخړوڅخه ډډه وشي.
11. دټاکنوخپلواک کمیسیون دفتر، دټاکنیز وشکایتونوکمیسیون ، دټاکنوخپلواک کمیسیون دارلانشا اونوروارړوندوڅانګوسره دې دټاکنوپه بهیرکي هراړخیزه مرسته وکړي.
12. ټولې اړینې کړنې دې ترسره کړي ترڅوډاډمن شي چې غړي اودهغوی پلویان دټاکنوقانون ، دچلنددغه اصول دټاکنیز و سرغړونو،کړنلارواونوروکړندودونو،دستورونو، لارښوونواودټاکنوخپلواک کمیسیون، دټاکنیزوشکایتونوکمیسیون او د ټاکنو کمیسیون دارلانشآ سره پېژنګلوي لري اودهغوی پرپلونو پل ږدي.
13. ټولې خبرتیاوې ، دویرې اوخوف په اړوندشکایتونه ،یاغیرقانوني کړنې، بې له ځنډه دهردفترله لارې یادټاکنومسوولین دټاکنیز وشکایتونوکمیسیون یادټاکنوخپلواک کمیسیون دفترپاملرنې اویاد بلې لازمي لارې به داړوندو قانوني مقاماتوپاملرنې ته وزسوي.
14. د رسمي شکایتونوڅېړنه یادچلنددغه اصولوماتولو اړوند تورونه ، دټاکنیزو سرغړونوکړنلاره ، دټاکنو قانون اونورو کړنلارو، دستورونو، لارښوونواودټاکنوخپلواک کمیسیون دفترخبرتیاوې ، دټاکنیزوشکایتونو کمیسیون اودټاکنودارلانشآ سره مرسته اوکمک وکړي.
15. له دروا غوبې بنسټه غیرمواجه شکایتونوورِاندې کولوڅخه دې ډډه وکړي.
16. دبهرنیواوداخلي غیرقانوني منابصونقدي یاجنسي مرستوله قبلولو څخه دې ځان وژغوري.
17. دټاکنیزومبارزوپه بهیرکي دې شخصي ملکیت ته درناوی وکړي دخصوصي املاکودپاسه دانځور، لیکنې، اوتبلیغاني موادوځای پرځای کول اویاددغواملاکوڅخه دټاکنیز ومبارزواوفعالیتولپاره دګټې اخسیتوپه صورت کې دې مخکې له مخکي داملاکوله خاوندانوڅخه داجازې غوښتنه وکړي.
18. دتبیلغ په موخه دنورو کاندیدانویا حزبونودتبلیغاتي موادو لرې کول، خرابول یا زیان رسولو څخه دې مخنیوی وکړي اودهغوی نظرته دې درناوی وشي.
19. دټآکنورسمي اوقانوني پایلې دې ومني

**پیژندګلوي:**

| | |
|---|---|
|  | **د یوه کاندید یا سیاسي ګوند د استازي په توګه**<br>▪ تاسي د رايي ورکولو او شمیرنې په بهیر کې د کاندید او یا سیاسي ګوند سترګې او غوږونه یاست.<br>▪ د رایي ورکولو په محل کې د خپل کاندید څخه استازیتوب. |
| **څرنګه کیدلاي شی تر څو د یوه کاندید یا سیاسي ګوند د استازي په توګه و پیژندل شو** | |
|  | ▪ که چیرې تاسو د کاندید په رسمي ورانديز د ټاکنو له اداري څخه باورليک ترلاسه کړی وي. |
|  | ▪ تاسو باید د رايي ورکولو او شمیرني له کړنلارې څخه باید پوره معلومات او له ټولو هغو حقونو او مسوولیتونو څخه چي د ټاکنو ناظرینو ته متوجه دي، خبر واوسی. |
|  | ▪ د یوه ناظر په توګه تاسو باید دسیمي له رای ورکونکو څخه کوم چي مرکز ته د رایي ورکولو لپاره راځي، پوره معلومات ولری. |
| **د یوه استازي په توګه مونږ باید څه شی ترسره کړو** | |
|  | **1. ترمخه له رأيي ورکولو:**<br>▪ تاسي باید د ترمخه له دې چي د رأی ورکولو محل ته ولاړ شی ، اړ یاست تر څو د څارني په اړه پوره معلومات مو د کاندید یا ګوند له استازي څخه او یا خو مو د ملي انستيتوت له ورکشاپونو څخه ښونه ترلاسه کړې وي. |
|  | ▪ د ټاکنو د کمیسیون څخه مو رسمي باورلیک ترلاسه کړی وي، ترڅو د استازي له حقوقو او مسوولیتونو څخه برخمن او د رايي ورکولو او شمیرني مرکزونو ته د ننوتو اجازه ولری. |
|  | ▪ د خپروني په اساس باید تاسو ته روښانه وي چي له کوم مرکز څخه څارنه وکړی. هم د سیمي د خلکو په اړه معلومات ولری او د مرکز له آدرس سره باید لا ترمخه آشنا واوسی.<br>▪ د مرکزونو په اړه معلومات د ټاکنو د کمیسیون لخوا لاترمخه خپریږي. |
|  | ▪ کوم اړین مواد چي تاسو باید هغه د رأی ورکولو په ورځ له ځانه سره ولری، ترلاسه او له شتون څخه یي ډاډ ترلاسه کړی. لکه د رأی ورکولو او د شمیرني له لارښود ، قلم او کتابچه، چک لست (د راپور فورمه)، باورلیک، خوراکي توکي، اوبه او یوڅه روپی د احتیاط په توګه |

**2. د رأی ورکولو په ورځ:**

| | |
|---|---|
|  | ▪ خپل ځان مرکز ته لږترلږه یوساعت ترمخه له رایه ورکولو ورسوی او د مرکز د تنظیم او د لاربښونکو علایمو له شتون څخه ډاډ ترلاسه کړي. |
|  | ▪ کله چې محل ته داخلیږی، نو باید خپل کارت او د کمیسیون باورلیک له ځان سره ولری او په خپله سینه یې په څرګنده توګه وځړوی. |
|  | ▪ کله چې مرکز ته ورسیدی، نو د رای پاڼو او نورو توکو د لیږد له پاکټونو او محمولو څخه لیدنه وکړی. |
|  | ▪ که چیرې په وخت سره مرکز ته ورسیدی نو کله چې د محل مامور د رایوپاڼو بنډلونه ترلاسه کوي، ښه ده چې د هغو د لمړئ پاڼې او وروستئ پاڼې سریال نمبرپه خپل چک لست کې له ځانه سره یاداښت کړي. |
|  | ▪ د رایه ورکولو له پیل څخه ترمخه د صندوقونو له صحت او روغوالی څخه چې د کارکونکو لخوا ناظرینو ته ښوول کیږي، ډاډ ترلاسه کړي. |
|  | ▪ د صندوقونو سریال شمیرې چې د محل د رییس لخوا اعلان کیږي، په خپلو چک لستونو/ کتابچو کې یاداښت کړي او ډاډ ترلاسه کړي چې صندوقونه په سمه توګه مهرولاک شوي دي. |
|  | ▪ ډاډ ترلاسه کړی چې صندوقونه رایه ورکونکو ته د لاسرسی وړ  په یوه سیمه کې کیښودل شوي او هم ناظرینو او کتونکو ته د لیدو وړ دي |

**د ټاکنو د ناظرینو د چلند اصول**

د ټاکنو د ناظرینو اصول عبارت دي د اصولو د هغې مجموعې څخه چې د ټاکنو په ورځ د ناظرینو کړه وړه اداره کوي. وروسته له هغه چې ناظرین د کمیسون تایید ترلاسه کړي. بیا هغوی د چلند ددغو اصولو په درناوي او د هغو په منلو باندې مکلف دي.

**د ناظرینو حقوق او مسئوولیتونه**

ټاکنیز ناظرین د ټاکنو د شفافیت او اعتبار په برخه کې یو مهم رول په غاړه لري. په عمومي توګه ټاکنیز ناظرین کولای شي چې سرغړوني وپیژني او د ټاکنو اړوند معلومات د رای ورکولو له محلونو څخه راغونډ کړي.

**د ټاکنو یو ناظر کوم کارونه کولای شي**

| | |
|---|---|
| ▪ د کاندید او سیاسي ګوند په استازیتوب، له رایه ورکولو او رایې شمیرنې څخه نظارت وکړي. |  |
| ▪ ناسم او مشکوکه کارونه د مرکزله رییس سره شریک کړي او هغه یادابښت کړي. |  |
| ▪ د شمیرنې له بهیر څخه څارنه وکړي او د پایلو فورم لاسلیک او له ځانه سره یې یادابښت کړي. |  |
| ▪ د رایې ورکولو په مرکز کې د شکایاتو د شته فورمونو په واسطه، خپل شکایتونه د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته واستوي. |  |
| ▪ د رایې ورکولو مرکز ته ننوتل او یا خو بیرته وتل. |   |

**د ټاکنو یو ناظر کوم کارونه نشي کولای**

| | |
|---|---|
| ▪ د ټاکنو په بهیر کې لاس وهنه. |  |
| ▪ د ټاکنیز مرکز له کارکونکو سره شخړه او مباحثه |  |
| ▪ د رایه ورکونکو د رایې د انتخاب په حق کې لاس وهنه او یا خو د رایې د پټوالي د اصل د افشا په برخه کې کوم کوښښ یا عمل ترسره کول. |  |

| | |
|---|---|
| ▪ د هر هغه ډول معلوماتو لیکل کوم چې د رایه ورکونکي د خپلواکۍ په برخه کې لاس وهنه بلل کیږي. |  |
| ▪ د رايي ورکولو او شميرنې اړوند د هرډول توکو لیږدول. |  |
| ▪ په مستقیمه توګه له رایه ورکونکو او یا د هغو له ملګرو سره خبرې اترې. |  |
| ▪ د مرکز په دننه یا بهر کې د ټاکنیزو سیالیو په لاره اچول. |  |

## د ناظر او کتونکي ترمنځ توپير

ناظر: ناظرين کولای شي چې هرډول شکايات يا اطلاعات چې په ارعاب، ډاروني يا پرغيرقانوني چلند پورې تړاؤ ولري، بې له ځنډه د ټاکنو د فترونو او يا د ټاکنو د هرو مسؤلينو له لارې د انتخاباتو د شکاياتو اړوند کميسيون او يا د ټاکنو خپلواک کميسيون ته د لازمي مجرې له لياري، د اړوندو چارواکو غوږ ته ورسوي.

کتونکی: باید د ټاکنو د قانون، د کمیسون له لورې تصویب شویو دستورالعملونو او تصویب شویو اسنادو سره سم چلند وکړي او د ټاکنو په هيڅ يو بهير کې مداخله ونکړي او ګډوډ يې نکړي. په لنډه توګه کتونکی د اعتراض د حق درلودنکی نه ده. خو ناظر/ د کانديد يا ګوند استازی د يوچا په رأی ورکولو باندې کوم چې د رأې ورکولو پوره شرايط نه لري، د اعتراض حق لري. ولې پر دې شرط چې اعتراض ترمخه د رأی پاڼې له ترلاسه کيدو، ترسره شي.

**باید په یاد ولری!**

| | |
|---|---|
| ▪ يواځې ښځينه ناظرين کولای شي چې ښځينه مرکزونو ته ولاړې شي. |  |
| ▪ د ټاکنو کميسيون کولای شي چې د هغو کتونکو او يا د ګوندونو او کانديدانو د استازو باورليکونه باطله کړي کوم چې هغوی د ناظرينو له چلند اصول او نورو ټاکنيزو مقرراتو څخه سرغړونه وکړي |  |
| ▪ د ډيرو کتونکو او ناظرينو د شتون په صورت کې، د محل رييس کولای شي چې د يوه مهال ويش پر اساس کوم چې ټولو ته د ليدلو چانس په کې وي، د ننوتو اجازه ورکړي. |  |

| | |
|---|---|
| ▪ ناظرين حق نلري چي له خپله ځانه سره داسي يوه نښه يا سمبول وليږدوي کوم چي هغه له کوم گوند او يا کانديد سره د دوی تړاو وښايي. |  |
| ▪ د رايي ورکولو محلات د سهار له ۷ بجو څخه دمازديگرتر ۴ بجو پوري خلاص وي. البته هغه کسان چي په کتار کي له ۴ بجو څخه مخکي راغلي، کولاي شي خپله رايه وکاروي. |  |

## کوم ټکي چي بايد د رايي ورکولو پرمهال ورته ډيره پاملرنه وشي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
|  |  |  |  |  |
| آيا د هغو کسانو له رايي ورکولو څخه ډډه وشوه چي د رايي ورکولو د شرايطو درلودونکي ؤ | آيا په شرايطو نه برابرو خلکوته د رايي ورکولو اجازه ورکول کيده | آيا کوم چا له يوي وارڅخه زياته رايه ورکړه؟ | آيا کوم چا قصداً د رايي ورکولو په غرفه کي د ټاکنيز کمپاين پوسترونه او يو نور توکي لکه د يوه کانديد عکس او دکوم گوند سمبول پريښود | آيا راى پاڼه ترمخه له دي چي رايه ورکونکي ته ورکړل شي، ټاپه کيدله |
|  |  |  |  |  |
| آيا چا هڅه وکړه تر څو له يوي پاڼي څخه زياتي پاڼي په صندوق کي واچوي. | آيا چا هڅه وکړه ترڅو د رايي ورکولو بهير له خنډ سره مخامخ او يا په کي لاس وهنه وکړي. | آيا غيرمسئووله کسان په مرکز کي موجود ؤ. | آيا د رايه ورکونکو کتار منظم ؤ | آيا هغه چاته چي د رايي ورکولو کارت يي نه درلوده ، د رايي ورکولو اجازه ورکړل شوه. |
|  |  |  |  |  |
| آيا هغه چاته چي گوته يي رنگ شوي وه، د بيا رايه ورکولو اجازه ورکړل شوه. | آيا هغه چاته چي نه يي غوښتل گوته يي رنگ شي، د رايي ورکولو اجازه ورکړل شوه. | آيا هغو افرادو ته چي غوښتل يي د رايي ورکولو بهير له خنډ سره مخامخ کړي، اجازه ورکړل شوه. | آيا حامله ښځو، سپين ږيرو، معيوبينو او يا نورو مريضو رايه ورکونکو ته اجازه ورکول کيده ترڅو مرکز ته پرته له دي چي په کتار کي تم شي، ننوځي. | آيا ړندو رايه ورکونکو ته د دي اجازه وه ترڅو د خپل حق د استعمال په خاطر يو څوک د مرستندويه په توگه له خانه سره ولري او يا خو يي انتخاب کړي. |



آیا وروسته د رايي ورکولو هر رايه ورکونکي مرکز په فوری توګه پريښوده.

**د رأی ورکولو د مرکزونو د پرانستولو څخه نظارت:**

د ټاکنو په ورځ لږ تر لږه یو ساعت مخکې خپل ځان د رای ورکولو مرکز ته ورسوئ او خپل ځان د مرکز رییس ته د خپل کارت په ښوولو سره کوم چې د ټاکنو خپلواك کمیسون درکړئ وروپيژنئ، په دې وخت کې کیدلاي شی چې د محل رییس د رايي ورکوني د محل په تنظیم او ترتیب باندې بوخت وي تر څو مناسب ځای د محل کارکونکو ته، د رايو نښه کولو د غرفو او صندوقونه په تنظیم ، د رايوورکوونکو د لستونو په پرانستلو، رای پاڼو او د رايو ورکولو د بهير لپاره د نورو اړينو اسنادو په ترتیب او چمتوکولو بوخت وي.

**کومو موردنو ته چې باید د پرانستلو پروخت ورته ډیره پاملرنه وکړو:**

**د ټاکنو د مرکز څخه بهر:**

- آيا چا هڅه وکړه ترڅو مرکز ته د واکمنو کارکونکو له ننوتو څخه ډډه وکړي؟
- آيا د مرکز په ۱۰۰متری کې د کمپاین کومي نښي او پوسټرونه موجود ؤ؟
- آيا امنيتي ځواکونو شتون درلوده او مرکز ته خو نه ننوتل؟
- آيا د رايو ورکوونکو کتارونه منظم دي؟

**د رايو د مرکز په دننه کې:**

- د رايو ورکولو د مرکز وضعيت وڅاري او ډاډ ترلاسه کړي چې له مناسبو کړنلارو څخه ملاتړ کيږي.
- د رايو صندوقونه بايد تش او مهرولاك شوي وي – د مهرولاك شميري ثبت کړي.
- د رايو ورکولو د محل رييس بايد د ترلاسه شويو رای پاڼو شميرې/نمرې ثبت کړي.
- آيا ټول ټاکنيز کارکونکي د رای ورکولو د محل د پرانستني پرمهال حاضر ؤ.

**له ټاکنو څخه نظارت:**

رايه اچونه د سهار پر ۷ بجو پيل کيږي. يواځي هغه رايه ورکوونکوي چي پخوا يي په نوم ليکنه کي برخه اخيستي وي، اجازه لري تر څو رايه ورکړي او بايد خپل د نوم ليکني کارتونه وښيي.

د رای ورکولو د محل دروازې ته مخامخ رايه ورکوونکي د کتار د کنترولر لخوا کتل کيږي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چي آيا دنوم ليکني کارت ورسره شته او ګوته يي خو رنګ شوې نه ده . وروسته رايه ورکوونکي د پيژندګلوی او ګوتي رنګولو مسئول ته ورځي ترڅو هلته د نومورې کارت وکتل شي او ډاډ ترلاسه شي چي تصوير يي له ده سره مطابقت لري. که چيرې د ښځينه رايي ورکوونکي کارت عکس ونه لري، نو د پيژند مسئول د نومورې د پلار د نوم پوښتنه کوي چي آيا کارت د هغي دی او که نه، د رايه ورکوونکي د کارت نمبر ثبتيږي، کارت د يوه ماشين په واسطه سوری کيږي او ګوته يي په يوه ځانګړي رنګ سره نښه کيږي. رايه ورکونکي يواځي په هغه ولايت کښي رايه ورکولای شي چي په کارت کي يي ليکل شوي ده. بيا رايه ورکونکی د رای پاڼي ويشونکي ته ځي تر څو د رايي پاڼه لاسته راوړي. رايه ورکوونکي وروسته د رايي نښه کولو غرفي ته ځي ترڅو د خپلي خوښ کانديد په نښه او بيا خپله پاڼه د رايو په صندوق کي اچوي.

**د بهیر د پای ځارنه:**

په ټول افغانستان کې به د رایو ورکولو مرکزونه د مازدیګر پر ۴ بجو وتړل شي. په دې وخت کې به د کتار کنټرولر باید پاملرنه وکړي ترڅو یواځې هغو خلکو ته چې په کتار کې موجود دي، د رایې ورکولو اجازه ورکړي. هغه کسان چې له ۴ بجو وروسته راځي، که چیرې پروسه د کمیسیون لخوا تمدید شوې وه، نو هغوی هم د رایې ورکونې اجازه به ولري، او که نه وه تمدید شوې، نو دوی نشي کولای چې په کتار کې ودریږي. کله چې وروستني رایه ورکوونکي خپله رایه ورکړه، مرکز تړل کیږي او د رایو د صندوق پورتنی خوله هم مهرو لاك کیږي.

**د رای ورکولو د محلونو د تړلو پرمهال مونږ باید لاندنیو ټکو ته پاملرنه وکړو:**

- آیا ټولو هغو کسانو ته چې ترمخه له ۴ بجو په کتار کې ولاړ ؤ، د راي ورکولو اجازه ورکړل شوه؟
- آیا د نویو رایه ورکوونکو له دریدلو څخه په کتار کې ډډه وشوه؟
- آیا له ۴ بجو څخه وروسته رایه ورکونکو ته په کتار کې د دریدلو اجازه ورکړل شوه؟
- آیا چا د رایې ورکولو د محل د تړلو پر مهال کوم ډول خنډ یا ممانعت رامنځ ته کړ؟
- آیا چا د مرکز د تړلو پرمهال د رایو په صندوق کې مداخله کړې یا یې په کې لاس وهنه وکړه؟
- آیا د رایو ټول صندوقونه مهرولاك شوي ؤ؟

## د شمیرنو نظارت:

کله چې د ټولو صندوقونو پورتنی خوله مهرولاك شوه، د رای ورکونې د محل رییس، محل د رایو د شمیرلو لپاره چمتو کوي. داخل بیا هم لکه د ۱۳۸۸ کال په څیر، رای شمیرنه به د رای ورکونې په محلونو کې ترسره شي. د محل رییس باید د شمیرنې په بهیر کې د ټولو ناظرینو لپاره پوره سیمه برابره کړي ترڅو د شمیرلو د ټولو پړاونو بهیر په څرګنده توګه وڅارل شي. مخکې له دې چې بهیر پیل شی، د محل رییس به په مرکز کې د شته ټولو ناظرینو نومونه د مرکز په ژورنال کې ثبت کړي.

**کوم موردونه چې باید د رای پاڼو د ویش یا بیلولو په مرحله کې ورته پاملرنه وشي:**

- آیا د دې پر سر چې کومه رایه پاڼه با اعتباره او کومه باطله ده توافق وشو؟
- آیا رییس د شکمنو رای پاڼو د اعتبار او نه اعتبار په اړه پرتې ستونزې حل کړې او په څرګنده توګه خپل دلایل یې له نورو سره شریکه کړل؟
- آیا د هر کاندید د مجموعي شمیر رایو په اړه توافق وشو؟
- آیا کوم چا پرته له کوم دلیل او څرګندتیا د شمیرنې په بهیر کې لاس وهنه وکړه؟
- آیا د شمیرنې پایلې په سمه توګه په فورمه کې ولیکل شوې؟ آیا رای پاڼې بیرته په صندوقونو کې ځای پرځای شوې؟ آیا صندوقونه مهرولاک شول او د مهرولاک شمیرې ثبت شوې؟
- آیا کارکوونکو ټول کتونکي او ناظرین له هغه څه نه چې دوی سرته ورسول، پوره خبر کړل او دا چې د دوی فعالیتونه ټولو ناظرینو او مشاهدینو ته څرګنده او د نظارت وړ ؤ؟

که چیرې د شمیرنې او رای پاڼو د ویش په بهیر کې کومه اندیښنه رامنځ ته شي، لطفاً هغه د رییس سره شریکه کړی . دغه اندیښنې باید ثبت شي او د اړتیا په صورت کې کیدای شي چې د شکایاتو د کمیسیون فورمه هم ډکه کړي.

**ناظرینو ته د ټاکنو د ورځي چک لست (بیلګه)**

د ټاکنو په ورځ د محل پرانیستنه: د نظارت چک لست

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **د الف فورمه: د رای ورکولو دمحل پرانیستنه**<br>د ولایت نوم:<br>دناظر نوم : | د رای ورکولو د مرکزشمیره:<br>د رأی ورکولو د محل شمیره:<br>د ولسوالی نوم: | هو | نه | ناځرګند |
| الف د رای ورکولو محل ته د رسیدو وخت<br>له محل څخه د وتلو وخت | | | | |
| ب 1. آیا د رأی ورکولو محل د لاسرسی وړ ؤ<br>ب 2. آیا ټول اړین ټاکنیز توکي موجود ؤ:<br>که ځواب منفي وي لطف وکړی هغه روښانه کړی | | | | |
| ب 3. آیا په محل کي دننه نورو غیر مجاز کسانو شتون درلود<br>که ځواب مثبت وي، نو مهرباني وکړی لړ رڼا پرې واچوی | | | | |
| ب 4. آیا د ډار کومي نښي د واکمنو او یا غیر واکمنو کسانو لخوا موجودي وي:<br>که ځواب مثبت وي، نو مهرباني وکړی لړ رڼا پرې واچوی | | | | |
| ب 5. آیا د ټاکنیزو سیالیو شواهد او یا خو د کمپاین توکي د محل په (100 متری) کي او یا خو مرکز ته په نږدې واټن کي موجود ؤ:<br>د هو په صورت کي مهرباني وکړی لړ رڼا پرې واچوی | | | | |
| ب 6. آیا ټول ټاکنیز کارکونکي موجود ؤ:<br>که ځواب منفی وو نو مهرباني وکړی لړ رڼا پرې واچوی<br>: | | | | |
| ب 7. آیا پولیسو یا امنیتي ځواکونه د رای ورکولو د محل په دننه یا شاوخوا کي سره موجود ؤ:<br>د هو په صورت کي مهرباني وکړی د هغو شمیره ولیکی | | | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ب 8. آيا رأی ورکونکي تر مخه د محل له پرانيستني په کتار کي ولاړ ؤ:<br>د هو په صورت کي مهرباني وکړی د هغو شميره ولیکی | | | |
| ب 9. آيا د رای ورکولو محل ته د ناظرينو/کتونکو له ننتولو څخه مخنيوی وشو:<br>د هو په صورت کي د چا لخوا | | | |
| ب 10. آيا د رای ورکولو محل په خپل وخت سره پرانيستل شو:<br>كه ځواب منفی وي نو څه وخت پیل شو: | | | |
| ب 11. آيا د رای ورکولو د محل د پرانيستني پرمهال ناظرينو/کتونکو شتون درلود:<br>د هو په صورت کي هغه فهرست کړی: | | | |
| ب 12. آيا د رای ورکولو دمحل له پرانيستني تر مخه، شکايتونو درج شوي ؤ: | | | |
| نوري څرګندوني:<br><br>ج:<br>ارزيابی<br>په عمومي توګه د رای ورکولو د محل پرانيستنه:<br><br>ډيره ښه ښه ناسمه يا خو ډيره ناسمه وه | | | |
| لاسليک | | | |

**ناظرینوته د ټاکنو د ورځې چک لست (بیلګه)**

د ټاکنو ورځ، د رأی ورکولو بهیر، د نظارت چک لست

| **د ب فورمه: د رأی ورکولو بهیر**<br>د ولایت نوم:<br>دناظر نوم :<br>د رای ورکولو د مرکزشمیره:<br>د رأی ورکولو د محل شمیره:<br>د ولسوالۍ نوم: | هو | نه | ناځرګند |
|---|---|---|---|
| الف د رای ورکولو محل ته د رسیدو وخت<br>له محل څخه د وتلو وخت | | | |
| ب 1. آیا د رای ورکولو په محل کې د رای ورکولو پرمهال کومه لانجه/ ګډوډي موجوده وه:<br>د هو په صورت کې مهرباني وکړی لږ رڼا پرې واچوی.: | | | |
| ب 2. څو تنه ګمارل شوي ټاکنیز کارکونکي موجود ؤ:<br>شمیر: | | | |
| ب 3. آیا ټاکنیز کارکونکي ښه روزل شوي ؤ:<br>که ځواب منفی وي مهرباني وکړی رڼا پرې واچوی: | | | |
| ب 4. آیا د ډار کومې نښې د واکمنو او یا غیر واکمنو کسانو لخوا موجودې وې:<br>که ځواب مثبت وي، نو مهرباني وکړی لږ رڼا پرې واچوی | | | |
| ب 5. 1 آیا د رای ورکونکو هویت په سمه توګه څیړل کیده:<br>2. آیا د کوم رای ورکونکي له ننوتلو څخه په دې خاطر چې د رای ورکولو کارت نلري، مخنیوی وشو:<br>د هو په صورت کې مهرباني وکړی لږ رڼا پرې واچوی. | | | |
| 3. آیا د رایوورکونکو ګوتې ترمخه له دې چې رنګ شي، کتل کیدلې:<br>که ځواب منفی وي د څو رایو ورکونکو | | | |
| ب 6. آیا د رای ورکولو صندوقونه تش او په سمه توګه مهرولاک شوي ؤ | | | |
| که ځواب منفی وي ، مهرباني وکړی رڼا پرې واچوی. | | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ب 7. آیا تاسو له لاندینو موردونو څخه کوم یو ولیده:<br>الف. د نورو په استازیتوب رایه ورکول<br>ب. کورنۍ(فامیلي) رایه ورکول<br>ج. د رایو د صندوق ډک کول<br>د. د یوه رایه ورکونکي لخوا له یوې رایې څخه زیات رایه کارول:<br>که ځواب مثبت وي مهرباني وکړی رنا پرې واچوی | | | |
| ب 8. آیا د رای ورکولو د محل ترتیب د رایې د پټوالي امر یې خوندي ساته:<br>که ځواب منفی وي مهرباني وکړی رنا پرې واچوی | | | |
| ب 9. آیا د رایې ورکوني له بهیر څخه د نظارت په اړه کوم چې د ناظرینو/کتونکو لخوا پرته له کوم خنډ څخه ترسره کیده، مخنیوی وشو.<br>که ځواب مثبت وي مهرباني وکړی رنا پرې واچوی | | | |
| ب 10. آیا له لاندنیو موردونو څخه مو کوم یو ولیده:<br>الف. له حد څخه ډیر بیروبار<br>ب. ډار<br>ج. تاو تریخوالی یا ګډوډي<br>د. نورې ستونزې<br>که ځواب مثبت وي مهرباني وکړی رنا پرې واچوی | | | |
| ب 11. آیا کوم دولتی یا ټاکنیز مسؤل له خپل واک څخه پر نورو او یا خو پروسې باندې د اعمال نفوذ په خاطر ناوړه ګټه پورته کړه.<br>که ځواب مثبت وي مهرباني وکړی رنا پرې واچوی | | | |
| ب 12. آیا ناظرینو/کتونکو د رای ورکولو په بهیر کې کوم شکایت ترسره کړ. | | | |
| نورې څرګندونې:<br><br>ج: ارزیابي<br><br>په عمومي توګه د رأی ورکولو بهیر:<br><br>ډیر ښه ښه بد ډیر بد | | | |
| لاسلیک -- | | | |

**ناظرينوته د ټاکنو د ورځې چک لست (بيلګه)**

د ټاکنو ورځ، د رأی ورکولو د بهير پای، د نظارت چک لست

| ناخرګند | نه | هو | د رای ورکولو د مرکزشميره:<br>د رأی ورکولو د محل شميره:<br>د ولسوالۍ نوم: | **د ج فورمه: د رأيو ورکولو پای**<br>د ولايت نوم:<br>دناظر نوم : |
|---|---|---|---|---|
| | | | الف د رای ورکولو محل ته د رسيدو وخت<br>له محل څخه د وتلو وخت | |
| | | | ب 1. آيا د رأی ورکولو د بهير په پای کې ، رأی ورکونکي د رأيي ورکونې لپاره منتظر ؤ<br>د هو په صورت کې څو رأی ورکونکي او آيا هغو ته د رايي ورکونې اجازه ورکړل شوه | |
| | | | ب 2. آيا د رايي ورکونې محل په خپل ټاکلي وخت کې وتړل شو<br>که ځواب منفی وي، څه وخت وتړل شو | |
| | | | ب 3. الف. آيا ټول ټاکل شوي ټا کنيز چارواکي موجود ؤ<br>که ځواب منفی وي، کوم شمير<br>ب. آيا کوم غير مسئول شخص حاضر ؤ<br>د هو په صورت کې مهرباني وکړی رڼا پرې واچوی | |
| | | | ب 4. آيا د رايي ورکولو صندوقونه د رأی ورکولو د بهير په پای کې په سمه توګه مهرولاک شول<br>د نه په صورت کې مهرباني وکړی رڼا پرې واچوی | |
| | | | ب 5. الف. آيا کتونکو/ناظرينو ته اجازه ورکړل شوه ترڅو د مهرولاکونو شميرې يادابښت کړي<br>ب. آيا کوم توپير موجود ؤ:<br>د هو په صورت کې مهرباني وکړی رڼا پرې واچوی | |
| | | | ب 6. آيا د رأی ورکولو پر بهير باندې د نظارت په خاطر، کتونکي/ناظرين موجود ؤ<br>د هو په صورت کې څوک او څو تنه | |
| | | | ب 7. آيا د رأی ورکولو د پای فورمې په سمه توګه ډکې شوې:<br>د نه په صورت کې مهرباني وکړی رڼا پرې واچوی<br><br>ارزيابي<br>په عمومی توګه د رأی ورکولو د پای بهير: | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | دير بنه بنه ناسم دير بد |
| | | | لاسليک -- |

**ناظرینوته د ټاکنو د ورځې چک لست (بیلګه)**

د ټاکنو ورځ، رأی شمیرنه، د نظارت چک لست

| **د ج فورمه: د رأیو شمیرنه**<br>د ولایت نوم:<br>دناظر نوم :<br>د رای ورکولو د مرکزشمیره:<br>د رأی ورکولو د محل شمیره:<br>د ولسوالۍ نوم: | هو | نه | ناخرګند |
|---|---|---|---|
| الف د رای ورکولو محل ته د رسیدو وخت<br>له محل څخه د وتلو وخت | | | |
| ب 1. آیا د رایو شمیرنه بې له ځنډه د رای ورکولو له بهیر څخه وروسته پیل شوه<br>د نه په صورت کې مهرباني وکړی رڼا پرې واچوی | | | |
| ب 2. آیا شمیرنه د ټاکنیزو کارکونکو لخوا ترسره شوه یا خو د کوم غیر مسئول شخص لخوا | | | |
| ب 3. آیا په صندوق کې د اچول شویو رأیو شمیره له راجسترشویو شمیرې سره یوشانته وه<br>د نه په صورت کې مهرباني وکړی رڼا پرې واچوی | | | |
| ب 4. آیا غیر مسئول اشخاص موجود ؤ، د هو په صورت کې څوک او آیا هغو د شمیرنې په بهیر کې په کوم ډول سره لاسوهنه/مداخله کوله؛ | | | |
| ب 5. آیا کومه نښه موجوده ده ترڅو په ګوته کړي چې صندوق ډک شوی دی. | | | |
| ب 6. آیا د شمیرنې په بهیر باندې د نظارت لپاره ناظرین/کتونکی موجود ؤ<br>د هو په صورت کې څو تنه او څوک: | | | |
| ب 7. الف. پر رأی پاڼو باندې د رأیو ورکونکو انتخاب په جګ غږ سره اعلان شو<br>ب. آیا رأی پاڼې په ښکاره توګه ټولو حاضرینو ته وښودل شوې | | | |
| ب 8. آیا کوم اختلاف د باطلو او معتبرو رأی پاڼو پر سر موجود ؤ<br>د هو په صورت کې مهرباني وکړی رڼا پرې واچوی | | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ب 9. آیا اختلافات / شکایاتونه موجود ؤ<br>د هو په صورت کې مهرباني وکړی رڼا پرې واچوی | | | |
| ب 10.  آیا د محل رییس په عادلانه توګه هر ډول اختلاف / شکایت ته رسیدنه وکړه | | | |
| ب 11. آیا د محل رییس د شمیرنې لایحه په سمه توګه ډکه کړه | | | |
| ب 12. آیا د کاندیدانو/ ګوندونو ناظرینو د شمیرنې لایحه لاسلیک کړه | | | |
| ب 13. آیا کوم چا د شمیرنې په بهیر کې کوم ځنډ یا خنډ رامنځ ته کړ<br>د هو په صورت کې مهرباني وکړی رڼا پرې واچوی | | | |
| ب 14. آیا ناظرینو/ کتونکو د پایلو یوه کاپی ترلاسه کړه<br>آیا ټولو مستحقو اشخاصو د پروتوکول کاپي ترلاسه کړې | | | |
| ب 15. آیا کوم شکایت د اختلاف په اړه موجود ؤ:<br>د هو په صورت کې مهرباني وکړی رڼا پرې واچوی | | | |
| ب 16.  آیا پایلې د رای ورکولو په محل کې وځړول/نصب شوې | | | |
| ب 17. آیا کومه د اختلاف وړ رأی پاڼه موجوده وه<br>آیا د باطلو/ معتبرو رأی پاڼو شمیر په سمه توګه اعلان شوې | | | |
| ب 18. آیا تا سو د ډار/تاوتریخوالي/ ګډوډی کوم مورد ولیده<br>د هو په صورت کې مهرباني وکړی رڼا پرې واچوی | | | |
| ب 19. آیا تاسوته  له شمیرنې څخه د نظارت په اړه کوم بندیز/محدودیت ترسره شو. | | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| د هو په صورت کې مهرباني وکړی رڼا پرې واچوی | | | |
| ارزيابي<br>په عمومي توګه د شميرنې اداره:<br>ډيره ښه     ښه     ناسمه     ډيره بده وه | | | |
| لاسليک... | | | |